سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۸/۰۵

# زه او زما دعا

زه د دی دنیا په مخ هـغـه نـادان یـم
غوږ می نه گورم په سپی پسی روان یـم
د خپل کور په ورانیدو کی بل هر چا نـه
میـړنئ د تـاریخـو یـم قــهـرمان یم
ورور وژنـه را تـه پاتـی میراثی ده
سـم د پـلار او د نیکه په لار روان یم
لـمسولی هـر دښمن یـم خپل عـزیـز ته
نه پوهـیـږم چی دا زه ښنگه انسان یم
په عمل کی پـه هـرچـا یمه خرخ شوی
په خبرو کی زمـری یــمه افغـان یـم
«میکناتن» او «کیوناری» می پرزولی
یوه ورځ کی«اکبرخان» بیا «یعقوب خان» یم



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ډیر پردی، پردی یو شوی دی دنیا کی

زه په کورکی خپلو ورونو سره وران یم

ډیر ښاغلی کړی د نورو سره مرسته

زه په سر د یتـیـم تندر د آســمان یم

خو د درواغو او د لافو په میدان کی

زه ګتـونکی له نـړی د دی میـدان یـم

په عمل کی مزدوری کـوم دښـمن ته

خـوا! خبـرو کی غازی یمه «امان» یم

لــوی مفسد په دی نړی کی له ما نشته

د بدبختـو بچـو پـلار افغانســتان یم

لویه خـدایه! ما له دی بچیو خلاص کړی

شرمولی چی یی زه په ټول جهان یم

*** *** ***

جولای/۳۰/۲۰۱۹

مرکم ـ تورنتو ـ کاناډا

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!